مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۱۱/۰۹

# زموږ استاده نګارګره!

زموږ استاده نګارګره
دانشمنده دانشوره
په بینش کي سترګوره
په دانش کي تر موږ بره
اندېښنو کي دي شریک یم
په تشویش دي ښه پوهېږم
له تیارو له تروږمیو
زه هم هرکله ډارېږم
اولس روږد سو په جنګونو
په ورانی په تاړاکونو
رحم ئې وواته له زړونو
پاک ئې نسته له مرګونو
عقل کوچ دئ زموږ له کلي
سنجش ووت زموږ له ښاره
پوهه بار سوه له مالَته
جهالت باندي واکداره
قافله د هست و نیست مو
بې سالاره بې رهبره
غلو کمین ورته نیولی
دوی له حاله ناخبره
قادر خان خټک پخوا لا
راته وې چي سیند خوني دئ
مخالف باد دئ چلېږي
زموږ جهاز سیخ ور رهي دئ
هی! افسوس تریخ حقیقت دئ
حالات درومي تباهۍ ته
تابوت پروت، قبر تیار دئ
پوهه اچوي ډورۍ ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

گوره، بیا به څو قرنونه
دا اولس په مرگ بیده وي
دواړي ستر‌گي بې ړندې وي
دواړه غوږ به ئې کاڼه وي
هیڅوک نسته چي بیان کړي
آیندو ته زموږ نکلونه
شهرزاده نکلزنه
بې پروا کاندي خوبونه
زموږ استاده نگارگره
د وطن په درد خبره
اورېده نه سي ستا چیغي
زمانه ده کور و کره
د امید خونه ده ورانه
د ارزو کور سو تالا
په لاتقنطو به کاندو
د مات زړونو تسلا

نهمه د نومبر ۲۰۱۹ع
آشاوا ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ